سلام خان ۲۰۱۱/۰۸/۲۴

# د ټاکنو د کميسيون پريکړه د کړکيچ د هوارولو په خاطر صادره شوی ده

د افغانستان د ولسي جرګې له ټاکنو د نژدې يوه کال په بشپړېدو سره دغه لانجه لا هم پيچلې کيدونکې برېښي او د دولت د ۳ قواوو ترمنځ اړيکې تر بل هر وخته ترينګلې بلل کيږي، د سياسی چارو ډير کار پوهان د ټاکنو د خپلواک کميسيون هغه پرېکړه غيرقانوني بولي چې نهه تنه يې نوي ولسي جرګې ته ور معرفي کړل، دغو نهو نوو معرفي شويوکسانو د دوی د ارزونو له مخې تير کال په ټاکنو کې درغلی کړې وې د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون د څيړنو له مخې دغه نهه تنه په ټاکنو کې په درغليو تورن پيژندل شوي دي.

دولسي جرګې د تيرکال د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون غړی احمد ضيا رفعت د ټاکنو د خپلواک کميسيون هغه پرېکړه غيرقانوني بللی ده چې نهه تنه يې نوي ولسي جرګې ته ور معرفي کړل، نوموړی ويلی دی چې دغه ۹ تنه د دوی له لورې په در غليو تورن او ناکام شوی وو، د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون ويائد وايي چې د ټاکنو کميسيون د دې واک نه لري چې د دوی پخوانۍ کړې پرېکړه ماته کړي. د ټاکنود قانون له مخې شکايتونه ټول څيړل شوي دي. د ټاکنو د کميسيون په ګډون هيڅوک د ټاکنو په پايلوکې د بدلون حق نه لري. دغه نهه تنه چې د ټاکنو د کميسيون له خوا جرګې ته بريالي معرفي شوي دي، که دوی ته وګورو هغوی بډای، زورور او ياهم لوړ پوړو دولتي چارواکو ته نږدې کسان دي. له دې داسې ښکاري چې د ټاکنو په پايلو کې دغه بدلون د فشار، معاملې او ياهم د فرمايش له مخې ترسره شوی دی.

بلخوا د ټاکنو د کميسيون ويائد فروغ تابش مني چې ولسي جرګې ته د دوی له خوا اوسني نهه تنه بريالي اعلان شوي وکيلان د ټاکنوپه لومړنيو پايلوکې هم بريالي وو، خوپه وينايې وروسته د شکاياتو کميسيون ناکام کړل.

د ښاغلي فروغ په خبره د ټاکنيزو شکايتونو د اوريدو کميسيون دغه نهه تنه هغه مهال له کوم قانوني دليل پرته ناکام اعلان کړي وو. ښاغلي فروغ وايي چې کميسيون هماغه مهال هم د ټاکنيزو شکايتونو د اورېدو د کميسيون له دغې پرېکړې سره مخالف و، خو له قانوني پلوه يې د ده په خبره د شکايتونو د اوريدو د کميسيون په چاروکې د لاس وهنې حق نه درلود. موږ د يوه ځانګړي طرزالعمل له مخې چې د ټاکنو د پايلو د ارزولو په موخه مو جوړ کړی و. دغه نهه تنه بريالي اعلان کړل، موږ وموندله چې د ټاکنيزو شکايتونو د اوريدو کميسيون د دغو نهو کسانو د حذف لپاره لازم دلايل نه لري.

د ټاکنو د خپلواک کميسيون د رئيس معنوی په وينا، دغه ۹ تنه دهغو ٦٢ کانديدانو له ډلې څخه دي، چې د ځانګړې محکمې له لوري بريالي اعلان شوی و. معنوي زياته کړې ده، **چې د ټاکنو خپلواک کميسيون دا پرېکړه د کړکيچ د هوارولو او د ستونزې د حل له مخې، چې د نظام، ولس او ډيموکراسۍ په ګټه نه وه، صادر کړې ده.** خو يو شمير شنونکي په دې باور دي، چې دا پرېکړه نه يواځې اوسني کړکيچ ته د پای ټکې نه ږدي، بلکې د نورو ناندريو د راټوکيدو لامل به شي، دا پرېکړه به ددې لامل شي، څو يو کمزوری نظام رامنځ ته شي او خلک به هم پرې باور ونه کړي، په عين حال کی امکان لرې چی ياده پرېکړه به د ولسي جرګې د اوسنيو غړيو تر منځ د اختلاف او درز لامل شي او دغه ۹تنه معترض کانديدان، چې دټاکنو خپلواک کميسيون له لوري بريالي اعلان شوي په ولسی جرګه کی د اصلاح غوښتونکيو له ډلې سره يوځای شي.

دا په داسې حال کې ده، چې په ولسي جرګه کې له قانون څخه د ملاتړ ايتلاف چې مخکې له ډېرځواک څخه برخمن و، د ځانګړې محکمې پرېکړه يې ناقانونه او پر حکومت يې نيوکی کولی، خو په دې وروستيوکې د اصلاح طلبانو په نوم يوه نوي ايتلاف، چې د پارلمان شپږ ګروپونه (سبا، سعادت، ملي تفاهم، ملي مشارکت، اعتماد او ملي متحد) پکې شامل دي، د ملي شورا په انګړ کې خپل موجوديت اعلان کړ، چې له قانون څخه د ملاتړ ايتلاف دريځ يې نسبت پخوا ته کمزوری کړ.

په کابل کې يو شمير برحالو قاضيانو، څارنوالانو او حقوق پوهانو د يوې غونډې په ترڅ کې د انتخاباتو د لانجې د هوارولو لپاره پر انتخاباتي شکايتونو د غور د ځانګړې محکمې د حکم ملاتړ وکړ، هغوی وايلی دی چې هيڅ اورګان د قضا د حکم پر وړاندې د دريدو صلاحيت او توان نه لري او که هره اداره يې د پريکړو د ماتولو هڅه وکړي دوی به په پوره قوت د هغوی پر وړاندې اقدام وکړي، کابل د استيناف د محکمې رئيس سيد رحيم وويل چې د ولسي جرګې غړي او نور اورګانونه چې موخه يې د ټولټاکنو له کميسيون څخه وه حق نه لري چې له خپل صلاحيت پوره پريکړې وکړي او هر هغه پريکړه چې قضا کړې وي هغه به پلي کېږي، نوموړی داهم ويلی دی چې، د دې پر ځای چې د شريعت د احکامو ملاتړ وکړي د وسلې، توپ او زور په وسيله خپلې خبرې تحميلوي، او دغه کار به زموږ اراده بدله نه کړي، هر


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

اورګان باید د خپل وظیفوي صلاحیت په چوکاټ کې عمل وکړي او که د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون دی او که د ولسي جرګې اوسني غړي هغوی نه سي کولای او دا حق هم نه لري چې د قضا پریکړې بابیزه وګڼي او هغه هغسي تتشې خبرې وبولي، په همدې حال کې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون له لوري ویل سوي چې دوی نه سی کولای چې د اختصاصي محکمې حکم چې ولسمشر ورته د پلي کولو امر کړی په بشپړه توګه ومني.
دبله لوری د ولسي جرګې د انتخاباتو معترضه کاندیدان او په سلګونو پلویان یې د انتخاباتو د کمسیون له وروستۍ پریکړې سره د خپل مخالفت په دوام د سې شنبې په ورځ په کابل کی واټونو ته راوتل، د دغو معترضه کاندیدانو، له خوا افغان ولسمشر ته په یو واضح پیغام کې دوه انتخابه وړاندې شول، **چې یا دې له دوی سره خپلې ژمنې عملي کړي او یا دې هم استعفی ورکړي،** معترضه کاندیدانو په خپلو ځرګندونو کی ویل، چې د انتخاباتو کمسیون په خپلې وروستۍ پریکړې سره، چې د دوی په وینا د یوناما او د بریتانیې د سفارت په لمسون شوی، شرعي پریکړو ته سپکاوی کړی دې هغوی و حکومت خبر داری ورکړی دې که د دوی له حقه دفاع ونه کړی نو د نظام په خلاف به پورت شي، **دمحکمی حکم د خدای او درسول حکم دی او د محکمی له حکم باید ملا تړ وشي** هغوی ویلی دی، موږ خبرداری ورکوو او په جدي ډول خبرداری ورکوو، چې که تاسو د خدای او د رسول حکم، چې د سترې محکمې له خوا صادر شوی نادیده ونیسی، نو له دې نظام څخه ملاتړ موږ لپاره ګناه ده او د هغې په وړاندې جهاد فرض عین دی، **ولسي جرګې هم د انتخاباتو د لانجې په اړه د خپل دریځ له مخې د انتخاباتو د کمسیون پریکړه نه ده منلې او ویلي یې دي، چې په هیڅ ډول به یې عملي نه کړي.**
وروسته له هغې، چې د انتخاباتو کمسیون د ځانګړې محکمې د حکم برخلاف، چې په کې دوه شپیته معترضه کاندیدان بریالي اعلان شوي وو، یوازې نهه کاندیدان بریالي اعلان کړل دا د دې پریکړې په وړاندې لومړنۍ تند غبرګون و، مظاهره کوونکو دا خبرداری هم ورکړ، چې پس له دې به دوی ولایتونو ته مخه کړي او د لویو لارو په بندولو سره به خپلو احتجاجونو ته دواوم ورکړي، معترضو کاندیدانو دا هم ویلی دی، چې د انتخاباتو د کمسیون دې پریکړې دا ثابته کړه، **چې په افغانستان کې د شرعي محکمو نه بلکې د بهرنیو ادارو پریکړې عملي کیږي** هغوی ویلی دي، که بیاهم په دې عمل ونه شي، نو دا هم د مخالفینو هغو ادعاوو ته صدق ورکوي، چې په افغانستان کې د اسلام شریعت نه، بکلې د خارجي سفارتونو فیصلې عملي کیږي.
دا معترضه کاندیدان په داسې حال کې واټونو ته راوتلي، چې افغان حکومت د انتخاباتو د کمسیون د پریکړې په اړه لا هم خاموشه دی، خو ملګرو ملتونو یې بیا ملاتړ کړی، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی ښاغلی **ستیفن ډی میستورا** د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د هغې پرېکړې، چې د اګسټ په ۲۱ نېټه وکړه، هر کلی کوي، همدا رنګه دولسمشر ښاغلی **حامد کرزی** دویندوی دفتر یوه غړی ویلی دې چې دامریکی ولسمشر **باراک اوباما** دکرزی د دغی پریکړی هر کلی دیوه ویدیویی کنفرانس په طرڅ کی کړی دې او د انتخاباتی لانجی دحل په باب یی دکرزی پریکړه یو شجاعانه او له ولسواکی ځخه ملا تړ کوونکی عمل بللی دې.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ